# د راحت زاخيلي علمي او ادبي خدمات

The Scholistic and Literary contribution of Rahat Zakheli

ډاکټر حنيف خليل*

**Abstract:**

Rahat Zakheli is one of the towering personalities who were the part of the galaxy, emerged on the horizon of the modern Pashto literature of the 20th century. He was a multi-dimensional literary figure and renowned contributor to the Pashto literature in various aspects subjects and thought provoking writings. The credit goes to Rahat Zakheli to introduce a few new genres of modern Pashto creative literature i.e. Novel, Short story and light essay. Apart from this he wrote various books in Pashto prose related to History, Religion, Politics and other social issues. As a journalist and calligrapher Rahat Zakheli contributed a lot to Pashto and put forward miscellaneous works in Pashto prose and verse.

He has two poetry collections to his credit in which he is appeared as a realist and revolutionary poet of 20th century. Besides his creative poetry he has translated two poetical collections of Allama Muhammad Iqbal in which he has shown his potential and abilities as a translator. This paper deals with these scattered literary works of Rahat Zakheli and put forward an analytical study of his works. A critical review of his poetry has been presented to show the importance of this stalwart personality in his contemporary literary scenario.

راحت زاخيلي د پښتو د نوي ادب په حواله يو داسې نوم دی چې د ګڼو جديدو اصنافو ابتدا د دوی د نوم نه کيږي. نۀ يواځې د جديد ادب او نوو تخليقي اصنافو په ضمن کښې د راحت زاخيلي نوم د فهرست په سر کښې وي بلکې د تاريخ، تحقيق، ترجمې، لغت، ګرائمر، صحافت، مضمون نګارۍ او تکل نګارۍ په ميدان کښې هم د راحت زاخيلي نوم د هر

* Assistant Professor, National Institute of Pakistan studies (NIPS) Quaid-e-Azam University Islamabad

چا نه اول د توجه مرکز ګرځي او بيا کله چې د هغهٔ تخليقي خدماتو ته ځير شو نو پښتو کښې د ناول آغاز، د افسانې ابتدا، د هنري نثر (ادب لطيف) رواج او د روماني، فلسفيانه او اسلامي تصوراتو نمائنده شاعرۍ سره سره د مقصدي او ترقي پسند فکر نمائنده شاعري د پښتو لمن ته سپارل هم د راحت زاخيلي په علمي او ادبي خدماتو کښې شامليږي، په دې بنياد د هغهٔ د علمي او ادبي خدماتو احاطه کول کهٔ ناممکن نهٔ دي نو ګران کار ضرور دی. ځکه مونږ په دې بحث کښې هڅه کوو چې کم نه کم يوه خاکه خو زمونږ مخې ته راشي او دا ترې واضحه شي چې د شلمې صدۍ د اغاز سره پښتو کښې نوي ادب کومې غزونې کولې په هغې کښې د راحت زاخيلي نهٔ هېرېدونکی کردار څومره اهميت لري.

راحت زاخيلي د وړوکوالي نه د خپل پلار سيد فريح الله نه ديني تعليم ترلاسه کولو او کله چې په کال 1903ء کښې ... د وړاندې تعليم دپاره پېښور ته را ولېږلی شو نو علمي او ادبي صلاحيتونو يې هم غزونې وکړې. ابتدا يې د کتابت د فن نه وکړه چې د صحافت او ادب ميدان ته راتلو دپاره يې د وړومبۍ پوړۍ کار وکړو او کله چې په افغان اخبار کښې د کتابت نه يې د صحافت ميدان کښې قدم کېښود نو په باقاعده توګه يې ادب سره هم رشته پيدا شوه. په کال 1949ء کښې "د توري او قلم خاوند" کښې ښاغلي نواز ختک د راحت زاخيلي د ابتدائي سفر په حقله داسې ليکلي دي:

"نوم راحت الله تخلص يې راحت، د والد صاحب نوم يې سيد فريح الله قوم ماندوری سيد، د پيدائش تاريخ يې 4 رجب 1302هـ مقام د زيړيدو اضاخېل بالا تحصيل نوښار، ابتدائي تعليم يې د خپل والد صاحب سره حاصل کړی دی، د زياتي تعليم دپاره په کال 1903ء کښې پېښور ښار ته راولېږلی شو. دلته يې څو کاله د فارسۍ او عربۍ کتابونه ولوستل او د خوش نويسۍ کار يې هم زده کړو. د 1909ء نه تر اوسه په پېښور ښار کښې اوسي. ذريعه د معاش يې هم دا کتابت دی. دی ډېره لوړه شاعري کوي، او نثر هم ډېر ښهٔ ليکي. د ترجمې په فن کښې استاذ ګڼلی شي، د "افغان" اخبار چې د

پښتو یوه هفته واره پرچه ده، دی مالك او مدیر دی، د پښتو لغت او د صرف و نحو کتابونه یې هم لیکلي دي. په کتابت کښې د یو خاص قسم رسم الخط مقلد دی"(1).

راحت زاخیلي په 29 مئ 1963ء کښې وفات شوی دی او پورته ذکر شوي معلومات د ابتدا نه واخله تر 1949ء زمانې پورې دي، د دې مطلب دا دی چې دې نه پس هم تقریباً پنځلس کاله راحت زاخیلي د ژبې او ادب خدمت کړی دی. خو بیا هم د هغهٔ د ځنو اهمو خدماتو تذکره ښاغلي نواز خټك په کال 1949ء کښې کړې ده، لکه چې وړاندې ذکر شوی دی چې راحت زاخیلي د پښتو د نثر او نظم په نورو میدانونو کښې هم کار کړی دی چې وروستو به یې ذکر وشي خو دلته د دې خبرې وضاحت کول مقصود دی چې راحت زاخلي د کتابت په لاره د صحافت میدان کښې قدم ایښی دی او بیا یې د صحافت نه د ادب پورې سفر کړی دی، د صحافت په میدان کښې د هغهٔ اخبار افغان د سنګ میل حېثیت لري، د دغه اخبار د اجراء او په کښې د راحت زاخیلي د یو کاتب په حېث او بیا د یو صحافي او ادیب په حېث کردار په حقله زمونږ ځېړونکي د تضاداتو ښکار هم دي ځکه یې دلته وضاحت ضروري دی.

ښاغلی زلمی هیوادمل د افغان اخبار او د دغه دور د ادبي صحافت په حقله لیکي چې:

"د پښتو او پښتو اردو موقوتو خپرونو سلسله له 1908ء کال نه جاري شوه، په 1908ء کال افغان جریده خپره شوه، د راحت د افغان د وروستیو کلونو کومې ګڼې چې ما کتلې دي هغه خو ګرده پښتو دي. مخونه یې شپږ وو. په هفته کښې یو ځل د هرې جمعې په ورځ خپریدله، نو داسې فکر کیږي چې دا اخبار به له ابتدا په پښتو شروع شوې وي، استاد اجمل خټك په خپله رساله "پښتو ادب" کښې افغان د پښتو لومړنی اخبار بللی دی (اٹک کے اس پار 177 ص) خو ښاغلي محمد همایون هما په خپله مقاله "زمونږ صوبه کښې د

افغـان د نـوم مجلـې" کښـې کـوم اووۀ ورځنـی اخبـار ښـودلی دی، هغـه د راحت زاخیلي افغان نۀ ښکاري".

پـه دغـه اقتبـاس کښـې جوتـه شـوه چې ښـاغلی زلمـی هیوادمـل د راحـت افغـان د پښـتو وړومبـی مکمـل اخبـار یـا جریـده ګڼـي او د خپلـې خبـرې پـه ثبـوت کښـې د ښـاغلي اجمـل ختـټك مرحـوم حوالـه ورکـوي او د اجـراء کـال يـې 1908ء ښـايي. هرکلـه چـې مـونږ د مرحـوم اجمـل ختـټك دغـه ذکـر شـوې مقالـه مطالعـه کـوو نـو راتـه ښـکاري چـې پـه هـم دغـه يـوه مقالـه کښـې اجمـل مرحـوم د راحـت د افغـان د اجـراء دوه کالونه ښايي. هغه په يوه موقع وايي چې:

*"اس دور کی سب سے بڑی خصوصیت یہ ہے کہ پشتو زبان کا سب سے پہلا اخبار بھی شائع ہوا، یہ اخبار ہفتہ وار افغان 1909ء میں جاری ہوا"(3).*

پـه دغـو بيانـاتو کښـې د اجـراء د سـنونو د تضـاد بـاوجود دا يـوه خبـره واضـحه ښـکاري چـې د راحـت زاخيلـي افغـان د پښـتو وړومبـی باقاعـده اخبـار ګڼلی شي او دې اخبـار سـره د راحـت زاخيلـي تعلـق ښـغ پـه ښـغ صـحافتي ګڼلی شـي. حـال دا دی چـې دغـه اخبـار سـره د راحـت زاخيلـي تعلـق وړومبـی د يـو کاتـب پـه حېـث ؤ او وروسـتو هغـه هـم د افغـان پـه نـوم يـو بـل خپـل اخبـار جـاري کـړی ؤ چـې مکمـل پـه پښـتو کښـې ؤ. وړانـدې ذکـر شـوی افغـان نۀ خـو د راحـت زاخيلـي اخبـار ؤ، نـۀ مکمـل پـه پښـتو کښـې ؤ او نـۀ ورسـره د راحـت زاخيلـي تعلـق د يـو صـحافي پـه حېـث ؤ. د دغـو ټولـو غلـط فهميـو ازالـه د نومـوړي محقـق شـاعر او صـحافي ښـاغلي فـارغ بخـاري مرحـوم د بيـان نـه کيـږي کـوم کښې چې هغه ليکي:

*"پشتو ادب میں صحافت کی ابتدا 1905ء کے لگ بھگ ہوئی ہے. سب سے پہلا ہفتہ وار اخبار افغان کے نام سے پشاور سے سید مہدی علی شاہ نے جاری کیا. بعد میں اسے سید عبداللہ شاہ نے خرید کر اپنے نام سے پانچ سال تک جاری رکھا. دوسرے دور میں یہ اخبار اردو اور پشتو دونوں زبانوں میں شائع ہوتا رہا. 1914ء میں اس کا نام بدل کر روزنامہ سرحد رکھا گیا، اس کے بعد پشاور، دہلی، کوئٹہ، کراچی، مردان اور کوہاٹ سے وقتاً فوقتاً اور جرائد و اخبارات شائع ہوتے رہے، سید راحت زاخیلی پشتو زبان کے*

*سب سے پہلے صحافی بتائے گئے ہیں، لیکن اصل میں ان کا تعلق اخبار افغان سے بحثیت ایک کاتب کے تھا، بعد میں آپ نے اپنا ایک ہفتہ وار اخبار افغان ہی کے نام سے جاری کیا"(4)*

دغسې راحت زاخیلي د کتابت په لاره صحافت ته راغلو او بیا چې د ادب په علمي میدان کښې ئې قدم کېښود نو لږه موده پس یې د پښتو د وړومبي طبع زاد ناول نتیجۀ عشق په لیکلو او په کال 1912ء کښې په چاپ کولو هغه کارنامه تر سره کړه چې د پښتو د ادبي تاریخ برخه جوړه شوه.

"ماه رخ" د دې ناول مرکزي کردار دی ځکه دا ناول په افغانستان کښې د ناول د "ماه رخې" په نوم په کال 1363هـ کښې د پوهنیار لطیف بهاند د مقدمې او تدقیق سره چاپ شو. دا ناول چې په کال 1363هـ (1984ء) کښې د کابل پوهنتون د فرهنګي شورا خپرولو نو په ابتدائي خبرو کښې یې د فرهنګي شورا رائیس (ش-ش) د راحت زاخیلي د قیصئیز ادب سره علاقه مندی، شعري صلاحیت او د ترجمې قوت ته هم اشارې وکړې او داسې یې ولیکل:

*"راحت داستان نویس و شاعر به داستانهائے مردم علاقمند بوده است از آن او به ترجمه داستان سیف الملوک و بدیع الجمال دست زده و آن را باقدرت تمام از دری به پشتو به نظم زیبا درآورده است. و داستان ماه رخ یا نتیجه عشق او که خودش آن را ابداع کرده است هم بداخل 14 باب بانثر شیوا به سبک پشاور برشته نبشته کشیده شده است"(5).*

د دې ناول په تمهید کښې راحت زاخیلي په خپله د ناول پس منظر څرګند کړی دی او لیکلي یې دي چې:

"ناظرینو دا کتاب فی الواقع صحیح قیصه ده مګر د یوې وجې اصلي نوم پرې اینښی دی، امید دی چې ناظرین به دې قیصې لره په نظر د رغبت وګوري، ځکه چې د حال زماني سرګذشت دی او زما د چشم دید واقعه ده چې په سنه 1906ء سنه 1907ء سنه 1908ء او سنه 1909ء کښې تېره شوې ده"(6).

دا هغه وخت ؤ چې راحت زاخیلي خپل شعري سفر هم شروع کړی ؤ او ورسره د ترجمې په میدان کښې ئې هم د خپلو صلاحیتونو

څرګندونه کوله. په هم دغه دور کښې راحت زاخیلي د طنزیه او سنجیده مضمونونو لیکل هم شروع کړي وو او د ادب لطیف یا هنري نثر داسې لیکونه یې هم په مختلفو جریدو کښې چاپ کېدل چې وروستو په پښتو کښې د تکل نګارۍ دپاره پېش خېمه ثابته شوه.

د هغهٔ په شاعرۍ به وروستو تبصره کولی شي دلته خبره د تخلیقي نثر روانه ده نو باید دا هم یاده شي چې د راحت زاخیلي یوه لویه کارنامه دا هم ده چې په کال 1917ء کښې یې د کونډه جینۍ په نوم د طبع زاد افسانې ابتدا هم وکړه، د راحت زاخیلي په دې ستره کارنامه هم زمونږ ځنو لیکونکو د اعتراض ګوتې پورته کړې. چا ووئیل چې دا افسانه د منشي پریم چند د افسانې *بڑے گھرانے کی بیٹی* نه متاثره ده او ځنو خو د پښتو افسانې د اولیت څهره هم د راحت په سر لیدل و نهٔ غوښتل او د لړم پېړنګي (لوریمر) پېش کړی یو حکایت چې په (A Dictionary of waziri Language) کښې پېش کړی شوی ؤ. د افسانې په نوم پېش کړو چې نهٔ خو جې جي لوریمر د افسانې په نوم پېش کړی ؤ او نهٔ په کښې د افسانې فني عناصر ؤ، بلکې دغه قسمه حکایتونه که د افسانې په فني چوکاټ کښې شاملیږي نو د پښتو افسانې عمر به سوونه کاله زوړ شي. تر څو چې د راحت زاخیلي د کونډه جینۍ تعلق نهٔ خو دا افسانه د پریم چند د افسانې نه متاثره ده او نهٔ د چا ترجمه ده، د دې افسانې ماحول، پس منظر، موضوع او ټوله تنه بوده د پښتو او پښتنو ده، تر دې چې ژبه، لهجه او د کردارونو نفسیات یې هم بېخي پښتانهٔ دي. او که د افسانې فن ته ګورو نو مونږ دا دعویٰ هم کولی شو چې د کونډه جینۍ غوندې اثرناکه او کامیابه افسانه نن هم لیکل اسان کار نهٔ دی. البته د اردو د مجموعي افسانوي ادب نه تاثر اخستلو نهٔ انکار نهٔ شي کېدی.

په قیصه ایز ادب کښې راحت زاخیلي په دغه وړومبي دور کښې یو ناول په اردو کښې هم د "ستارهٔ زمین" په نوم ولیکلو او د قیصه ایز ادب او شاعرۍ سره سره یې په دغه دور کښې یو خوا که د

ترجمو په لاره د پښتو په شعري ادب کښې اضافه کوله نو بل خوا يې په تاريخ او تحقيق هم ګوتې پورې کړې. د ترجمې په ميدان کښې يې د علامه اقبال مرحوم د شکوه او جواب شکوه منظومې ترجمې په هغه وخت کښې وکړې چې علامه اقبال لا ژوندی ؤ، وروسته يې د علامه اقبال د بانګ درا منظومه ترجمه هم وکړه او په خپله طبع زاد شاعرئ کښې يې هم د اقبال د اصلاحي اسلامي او اخلاقي موضوعاتو داسې پيروي وکړه چې په افغاني اقبال مشهور شو. د ترجمو په دغه سفر کښې د راحت زاخيلي يوه نۀ هېرېدونکې کارنامه د سعدي شيرازي شهرۀ آفاق کتاب ګلستان پښتو کښې نثري ترجمه هم ده، د تاريخي، اصلاحي، اسلامي او اخلاقي موضوعاتو غلبه پرې دومره زياته وه چې سوانح انور بېګ او غزان د افغان غوندې علمي او تاريخ کتابونه يې هم پښتو کښې منظوم کړل، دغسې راحت زاخيلي مرحوم د تاريخ غوندې اهمې موضوع ته توجه وکړه او د تاريخ افغانستان او تاريخ بغداد په نوم يې دوه ډېر اهم تاريخونه پښتو کښې وليکل.

راحت زاخيلي د لغت او ګرائمر په ميدان کښې هم د خپل صلاحيت ثرګندونه کړې ده، البته په دغو دواړو ميدانونو کښې هغۀ د ځنو نورو لغتونو او ګرائمرونو نه ډېر په خلاص مټ استفاده کړې ده، د هغۀ لغت د "لغت افغاني" په نوم چاپ دی او ګرائمر يې د پښتو قاعدې په نوم چاپ دی. ډاکټر ميا سهيل انشاء په خپله يوه مقاله "د ارواښاد راحت زاخيلي د دوو کتابونو پرتليز جاج" (7) کښې په دغو دواړو کتابونو څېړنه کړې ده او د راحت زاخيلي لغت يې د پادري خير الله د خير اللغات او د پښتو قاعدې يې د مير احمد شاه رضواني د "پښتو ګرائمر يعني قواعد صرف و نحو زبان افغانی" نه متاثر ښودلي دي. د ډاکټر ميا سهيل انشاء د دغه پرتليز جاج نه پته لګي چې د راحت زاخيلي دغه دواړه کتابونه په يقيني توګه د پادري خير الله، خير اللغات او مير احمد شاه رضواني ګرائمر نه په غټه پيمانه متاثره دي خو دلته دا خبره هم ياده ساتل په کار دي چې

ګرائمر او لغت داسې ميدانونه دي چې د يو بل نه متاثر کېدل او د يو بل نه استفاده کول په کښې يو فطري امر دی. ځکه مونږ د راحت زاخيلي دغو دواړو خدماتو ته هم په درنه سترګه ګورو.

"د راحت زاخيلي د علمي او ادبي خدماتو دغه لړۍ روانه وه چې هغه په کښې د خپلو نثري خدماتو سره خپل شعري سفر هم جاري ساتلی ؤ، د هغهٔ دوه شعري مجموعې د "داغونه" او "داغستان" په نومونو چاپ دی. د هغهٔ وړومبۍ مجموعه په کال 1961ء کښې د داغونه په نوم چاپ ده چې يوه تفصيلي سريزه پرې بابائې غزل امير حمزه شنواري د سيد راحت او د هغهٔ ادبي شخصيت د عنوان لاندې ليکلې ده او دوئمه مجموعه داغستان يې ښاغلي زلمي هيوادمل د مختلفو جريدو او مجلو نه را غونډه کړې کلام باندې مشتمله چاپ کړې ده، اروابښاد حمزه بابا د داغونه په سريزه کښې وړومبۍ خو د راحت زاخيلي مجموعي خدماتو ته اشاره کړې ده او ليکلي يې دي چې:

"د 1300هـ نه را په دې خوا چې څومره پښتو ادب پرمختګ کړی دی او په دې دوران کښې يې څومره اديبان شاعران پيدا کړي دي په هغو کښې د سيد راحت شخصيت دا يو نه هم کم نهٔ دی بلکې په ډېرو وجوهاتو د اکثرو نه لوړ او اهم دی، او د دې ثبوت دا دی چې د راحت په ادب کښې جامعيت دی او شخصيت هم هله منلی کيږي چې د خپل فن يا علم جامعيت ولري، هسې خو ډېر پښتانهٔ تېر شوي دي چې په نظم يا نثر کښې يې ډېر کار کړی دی، لېکن راحت يوازې دا نهٔ چې ډېر ښهٔ نثار او شاعر دی بلکې يو ډېر ښهٔ مترجم هم دی، او په دې وجه د پښتو ادب تاريخ ليکونکي مجبور دي چې د سيد راحت ذکر په ځلاندو الفاظو وکړي"(8).

د دغه مجموعي تذکرې نه پس حمزه بابا د راحت زاخيلي د شاعرۍ په ابتدائي دور په حقله ليکي:

"پاتې شوه د راحت صاحب شاعري نو راحت چې په 1915ء کښې داسې شعر وئيلی شي چې:

پــــه معنٰـــی د نحـــن اقـــرب دې ښـــهٔ پـــوهېږم
خـــو ډېـــر ســـخت لـــه ښلتانـــهٔ دی وصـــال ســـتا

نـو تاسـو پـه خپلـه انـدازه کـولی شـی چـې 1915ء نـه را پـه دې خـوا پـه دې سـپین ږیـري زلمـي د پښـتو نـاوې تـه څـومره ګانـهٔ ورکړې وي"(9).

د راحـت زاخیلـي د ابتـدائي شعرونو پـه حقلـه خـو وثـوق سـره څـهٔ نـهٔ شـو وئیلـی خـو د حمـزه بابـا د پورتـه بیـان نـه دومـره خـو انـدازه کیـږي چـې پـه کـال 1915ء کښـې راحـت صـاحب یـو منلـی او د اوچـت معیـار شـاعر ؤ، او بیـا کـه د هغـهٔ د دور ادبـي مجلـې او جریـدې وپلټلـی شـي نـو د هغـهٔ د چـاپ شـاعرۍ د ادوارو انـدازه تـرې هـم کېـدلی شـي، د موجـوده مجلـو د ریکـارډ تـر مخـه د هغـهٔ یـو طویـل نظـم "مکالمـه" پـه سرحد مجلـه د فـروري 1926ء پـه ګڼـه کښـې پـه صـفحه 14 تـا 16 چـاپ شـوی دی وروسـتو چـې خـان عبـدالغفار خـان پـه کـال 1928ء کښـې د پښـتون مجلـې اجـراء وکـړه نـو د راحـت زاخیلـي شـاعري بـه د پښـتون مجلـې پـه مختلفـو ګڼـو کښـي وخـت پـه وخـت چـاپ کېدلـه، د پښـتون مجلـې د کـال 1929ء پـه ګڼـو کښـې د راحـت زاخیلـي د کـلام نمـونې محفـوظې دي، او بیـا د پښـتون او څنـو نـورو مجلـو هغـه کـلام چـې پـه "داغونـه" کښـې نـهٔ ؤ چـاپ، د راحـت صـاحب پـه دوېمـه مجموعـه "داغسـتان" کښـې شـامل کړی شو.

پـه دې موقـع د راحـت زاخیلـي د شـاعرۍ پـه فنـي او فکـري اړخونـو تفصـیلي خبـرې خـو نـهٔ شـي کېـدی البتـه دومـره انـدازه پـه اسـانه کېـدلی شـي چـې د هغـهٔ پـه شـاعرۍ کښـې د ابتـدا نـه د مقصـدیت او رومانویـت د امتـزاج سـره فلسـفیانه او مـذهبي مضـامین هـم بیـان شـوي دي. پـه مجمـوعي توګـه د هغـهٔ پـه شـاعرۍ د مقصـدیت رنـګ زیـات غالـب دی، مـونږ دا وئیلـی شـو چـې شـاعر مشرق حضـرت علامـه محمـد اقبـال چـې د شـاعرۍ پـه ذریعـه د قـامي بیـدارۍ کـوم شـعور پیـدا کولـو او ملـت اسـلامیه د اصـلاح کومـه وظیفـه یـې د خپلـې اردو او فارسـي شـاعرۍ پـه ذریعـه ترسـره کولـه، دغـه وظیفـه راحـت زاخیلـي د خپلـې پښـتو

شاعرۍ په ذریعه د ترسره کولو هڅه کړې ده، هرکله چې مونږ ته دا معلومه ده چې د راحت زاخیلي د مقصدي او اصلاحي شاعرۍ يوه غټه برخه د پاکستان د ازادۍ نه مخکښې تخليق شوې ده نو ځکه د هغۀ په شاعرۍ کښې پېغام د مجموعي افغان ملت دپاره دی، هغه که په موجوده پاکستان کښې دی او که په افغانستان کښې خو راحت زاخيلي د خپل شاعرانه پېغام محور ګرځولی دی، د هم دغه قامي او ملي بيدارۍ د پېغام په وجه د هغۀ نسبت د علامه اقبال شعري پيغام سره ورکولی شو او په هم دغه وجه هغه ته افغاني اقبال هم وئيلی شي. خو دا وضاحت هم بائد وشي چې د راحت زاخيلي د وړومبۍ مجموعې په شاعرۍ کښې د رومان او فلسفې، مذهب او تصوف رنګ شوخ دی او د دوئمې مجموعې په شاعرۍ يې د قامي، سياسي او ټولنيزو مضامينو اثرات خوارۀ دي، دلته بايد دا يادونه هم وشي چې د هغۀ د وړومبۍ مجموعې په شاعرۍ کښې د غزل او تغزل خوارۀ زيات دي او د دوئمې مجموعې مقصدي شاعري يې عموماً د نظم په چوکاټ کښې وړاندې کړې ده، د هغۀ په مقصدي شاعرۍ کښې سياسي او ټولنيز مضامين دومره په شوخ رنګ کښې ځان ځرګندوي چې د ترقي پسند ادب د يو نمائنده په توګه يې هم پېش کولی شو چې په دې توګه يې د طبقاتي لرې برې خاکه هم وړاندې کړې ده او د امير او غريب د سماجي غرزو پرزو تصوير کشي يې هم کړې ده، دلته وړومبۍ د هغۀ د روماني شاعرۍ نه د هغۀ د تغزل رنګ وړاندې کولو دپاره څو شعرونه وړاندې کوم چې په دې ډول دي.

د دې کړو ښو مېرمن داسې سم غشي ولي
زړۀ که ترې بچ کړمه نو ښخ يې په ځيګر وينمه"(10)

که سپرلی چرې اوس راشي يا را نۀ شي
د راحت ځيري ګرېوان دی نن سبا"(11)

هــر يــو تــار يــې پــه جلــوو هــره بخــې پــه پلوشــو ده
خــدای خبـر څـومره پـې مخـي پـټ کـړل دې څيـرې ګريـوان مـې(12)

د دغــه تغزلــي او رومــانوي رنــګ نــه پــس چــې د راحــت زاخيلــي مقصدي، اصلاحي، سياسي او قامي شاعرۍ ته نظر کوو نو د هغۀ د دور ګڼـو ټـولنيزو مسـئلو تـه زمـونږ پـام رااړوي، د هغـۀ د قـامي او وطنـي شـاعرۍ نـه د نمـونې پـه توګـه د هغـۀ نظـم "د وطـن خـاوره" وړومبۍ برخه وړاندې کوم وايي:

مـــــا تـــــه څـــــۀ لـــــه بيـــــا بيـــــا ســـــتايې
چـــــــاړې بــــــــوټې د وطـــــــــــن
دا د هـــــــــــاړ ګـــــــــــرم بادونـــــــــــه
ســـــــارۀ ژمـــــــــي د وطـــــــــــن
خـــــــوار خيچنـــــــه جـــــــامې څيـــــــرې
ګـــــــرد لړلـــــــــي د وطـــــــــــن
ولـــــــــې دا زمـــــــــا وطـــــــــــن دی

د نيکـــــــــۀ ابـــــــــا وطـــــــــــن دی
څـــــۀ کشـــــش دی دې نامـــــه کښـــــې
د نـــــامې نـــــه دې قربـــــان شـــــم
مـــــن و تـــــن مـــــې قـــــرار نـــــۀ کـــــړي
تـــــا نـــــه بېـــــل شـــــم پـــــه ارمـــــان شـــــم
ســـــتا ســـــپرلي لـــــه ارم ښـــــکلي
زۀ پـــــه تـــــا بانـــــدې بـــــاران شـــــم
تـــــۀ زمـــــا د عـــــزت ځـــــای يـــــې
ســـــتا د قـــــدره زۀ قربـــــان شـــــم
تـــــۀ زمـــــا ښـــــکلی وطـــــن يـــــې
تـــــۀ زمـــــا د قـــــام مســـــکن يـــــې"(13)

دا د راحت زاخیلي د هغه وخت شاعرانه افکار دي کله چې پاکستان ازاد شوی ؤ، دلته د وطن نه د هغهٔ مراد پاکستان دی او دا ښکلی وطن چې د خپل قام مسکن ګڼي نو د قام نه یې مقصد خپل پښتون ملت دی، خو د پاکستان د ازادۍ نه مخکښې د راحت زاخیلي په شاعرۍ کښې د پښتون ملت دپاره په اجتماعي توګه د اصلاح او ترقۍ پیغام وړاندې کړی شوی دی، تر دې چې په ځنو نظمونو کښې ئې په خصوصي توګه د افغانستان او کابل په حواله هم د پښتون ملت ټولنیزې او سیاسي مسئلې په خپله شاعرۍ کې را اخستې دي. د مارچ 1929ء په پښتون مجله کښې هغه د "یا دا وکړه یا دا" په عنوان یو نظم چاپ کړی دی چې وروستو په داغستان مجموعه کښې هم شامل کړی شوی دی. دغه نظم په مجموعي توګه خو د پښتون ملت د مسائلو ښکارندوی دی خو په خصوصي توګه په کښې د غازي امان الله خان او بچه سقه د اقتدار سیاسي کشمکش ته اشاره شوې ده او د بچه سقه په مقابله کښې د غازي امان الله خان مرسته په کښې ښودلې شوې ده، د دې نظم ابتدا داسې کیږي.

یا غوږ کېږده پښتون شه چې شې پوه په مدعا
یا لرې شه له مخې چې مې سترګې شي رڼا
یا دا وکړه یا دا"(14)

په دغه نظم کښې د افغانستان د قندهار او کابل ذکر سره د غازي امان الله خان او بچه سقه کشمکش ته اشاره کوي او وایي:

یا ورشه قندهار ته او د نر سره چاکر شه
یا مل شه د غلاګرکو په کابل کښې کوه غلا
یا دا وکړه یا دا"(15)

د راحت په نظم کښې د دغه شعرونو د پس منظر په حقله ښاغلی زلمی هیوادمل لیکي:

"کله چې غازي امان الله خان د 1929ء کال د جنورۍ په 14مه په قندهار کښې بیا په فعالیت پیل وکړ او خلقو بیعت ورسره وکړ او په

دغـه ښـار کښـې د دهٔ پـه تائيـد خلـق را ټـول شـول، خرقـه شـريفه يـې را واخسـته او د قنـدهار علمـاوو د بچـه سقاو امـارت و نـهٔ مانـهٔ او لـه بچـه سقه سـره يـې د جنـګ فتـوا صـادره کـړه، لـه دې پېښـې هـم پـه لـره او بـره پښـتونخوا کښـې پښـتانهٔ بـې خبـره نـهٔ وو. راحـت لـه موضـوع سـره د يـوهٔ علاقـه منـد شـاعر پـه توګـه د "يـا دا وکـړه يـا دا" اوږد نظـم وليکـهٔ چـې ملي، اجتماعي او انتقادي جنبه لري"(16).

راحـت زاخيلـي افغانسـتان او د افغانسـتان هـر ښـار سـره ډېـر عقيـدت لرلـو، هغـهٔ د "قنـدهار تـه خطـاب" پـه نـوم يـو نظـم ليکلـی دی چې خپل عقيدت په کښې په دې توګه وړاندې کوي:

"د وطـن لـه ګـرده پـاك دی سـتا دامـان
تـهٔ يوسـف يـې سـتا هـر مصـر دی کنعـان
سـتا کـاروان بـه خـدای هيچـرې نـهٔ کـړي وران
غيـر لـه بانګـه دې نـور هـيڅ نشـته سـامان
تـهٔ يـو سـتوری يـې خـو ګـرد نـن پـه اسـمان دی
ځکـه سـتا پـه رڼـايي کښـې نـن نقصـان دی
سـتا چـې کيـږي نـن پـرون زړهٔ ازادي
امتحـان دی کـړه ظـاهره خـود داري
کـه پـه دې چغـه را نـهٔ شـې بيـداري
نـو لازياتـه بـه را پېښـه شـي خـواري
د حـق نـور نـهٔ مـري کـه ډېـر دي دښـمنان
نـن دی وار د قنـدهار د مسـلمان

لکـه بـوی غنچـه کښـې ناسـت يـې ځـه پرېشـان شـه
رخـت پـه سـر کـړه پـه هـوا د ګلسـتان شـه
د وسـعت پـه شـوق ذرې نـهٔ بيابـان شـه
پـه نغمـه د مـوج هنګـام جـوړ کـړه طوفـان شـه
دا کابـل ځـهٔ چـې هـم لـوح او هـم قلـم
سـتا د لاتـدې بـه ابـاد شـي مـه خـوره غـم"(17)

د راحت زاخیلي دا نظم هم د کال 1929ء په پښتون مجله کښې چاپ دی او په دې نظم کښې هم هغه د کابل او قندهار نوم اخلي خو پس منظر هم هغه د بچه سقه او غازي امان الله خان بیانوي او د قندهار په نوم په اصل کښې غازي امان الله خان ته د عقیدت پېرزوینې وړاندې کوي.

د راحت زاخیلي په داغستان کښې که "د قیدیانو اختر" "د اختر په ورځ" او "د اختر میاشت" په عنوانونو نظمونه ولوستلی شي نو د هغهٔ د مقصدي شاعرۍ ترقي پسند اړخ په کښې ډېر جوت لیدلی شي، د غربت، مایوسۍ، افلاس، او بې کسۍ ځپلي اولس احساسات چې راحت زاخیلي په دغو نظمونو کښې په کوم انداز بیان کړي دي هغه د لوستونکو جذبات را لړزوي. او بیا د مزدور د عنوان لاندې یوه څلوریزه کښې یې چې کوم پېغام وړاندې کړی دی هغه زمونږ د ترقي پسند فکر د نمائنده شاعرۍ غوره نمونه ده، څلوریزه په دې ډول ده:

اې مزدوره څهٔ دې عمر څهٔ ځواني ستا
د غمونو نه دی ډك زړهٔ ارماني ستا
دنیادار دې په ارام کوي عیشونه
او بارونه دې په سر وړي ناتواني ستا"(18)

د راحت زاخیلي د شاعرانه مضامینو دا بحث ډېر طویل دی، ځکه زهٔ دلته د خلاصې په توګه وایم چې راحت زاخیلي د خپل دور نهٔ یوازې یو عالم، محقق او مؤرخ ؤ بلکې هغه د خپل دور یو نامور او فعال صحافي او مترجم هم ؤ، د سیاسي شعور خاوند، دین و مذهب او فلسفې د میدان شهسوار ؤ، یو مصلح او اولسي لارښود ؤ، د اعلی پایې نثر نګار په خصوصي توګه افسانه نګار او د ادب لطیف لیکونکی او پښتو کښې د طبع زاد ناول متعارف کوونکی ؤ. او بیا په نوي نسل د لیکونو د حوصله افزائي او اصلاح په شکل پښتو ادب ته د یو پوره نسل بخښونکی ؤ. خو یوازې دا هرڅهٔ نهٔ بلکې د خپل دور یو منلی او د اعلی معیار شاعر هم ؤ. ځکه مونږ دا بحث په دې

خبره را غونډوو چې د پښتو د ادبي تاريخ ليکونکی به مجبور وي چې د شلمې صدۍ د جديد ادب او نوو اصنافو متعارف کوونکي د دې لوی اديب او دانشور ذکر په زرينو ټکو کښې وکړي.

***

# حوالې

(1) ختـــک، محمــد نــواز، د تــورې او قلــم خاونــد، ادارۀ اشــاعت ســرحد پشاور، دويم ځل کال، 1961ء، مخ144.
(2)خٹک، اجمل، پشتو ادب (مقالہ) مشمولہ اٹک کے اس پار (س ن) ص142.
(3)ایضاً، ص131.
(4)بخاری، فارغ، پشتو ادب کی تاریخ (تیسرا دور) مشمولہ تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان وہند، (تیرہویں جلد) مرتبہ گروپ کیپٹین سید فیاض محمود، پنجاب یونیورسٹی لاہور، 1971ء، ص172.
(5) ش، ش، نتیجــه عشــق، مشــموله، مشــموله نــاول د مــاه رخــې (د راحــت زاخيلي) د کابل پوهنتون فرهنگي شورا خپرونه 1363 کال ثور مخ الف
(6) راحت، راحت الله، خاکسار، ناول د ماه رخې، (محوله بالا) ص1.
(7) انشــاء، ســهيل، ميــا، ډاکټــر، د اروابنــاد راحــت صــاحب د دوو کتــابونو پرتليــز جــاج مشــموله راحــت زاخيلــي، فکــر او فــن (مرتبــه شــير احمــد خليــل) بــاگرام ادبــي جرگه پېښور، پښتو ادبي ټولنه ريگی سيمه، دسمبر 2000ء، مخ62.
(8) شــنواری، حمــزه، ســيد راحــت او د هغــۀ ادبــي شخصــيت، مشــموله، راحت زاخيلي فکر و فن، (مرتبه شېر احمد خليل) مخ 25.
(9) ايضاً، مخ24.
(10) ايضاً، مخ27.
(11) ايضاً، مخ27.
(12) ايضاً، مخ27.
(13) زاخيلي، راحت، داغستان، د هيواد ورځپاڼه، 1363هـ، مخ30، 31.
(14) ايضاً، مخ35.
(15) ايضاً، مخ36.
(16) هيوادمل، زلمی، داغستان راحت، مشموله داغستان، مخ14.
(17) زاخيلي، راحت، داغستان، مخ63، 64.
(18) ايضاً، مخ71.